په رحم کوونکو باندې الله رحم کوي، تاسو د ځمکې پر خلکو رحم وکړئ هغه ذات چې په اسمانونو کې دی پر تاسو به رحم وکړي

له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی وایې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: «په رحم کوونکو باندې الله رحم کوي، تاسو د ځمکې پر خلکو رحم وکړئ هغه ذات چې په اسمانونو کې دی پر تاسو به رحم وکړي».

[صحيح دی] [ابو داود، الترمذي، او احمد روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم بیانوي چې؛ هغه خلک چې په نورو رحم کوي، نو رحمان ذات پر هغوی رحم کوي چې رحم یې له هر څه پراخه دی، بدله د عمل سره برابره. بیا رسول الله صلى الله عليه وسلم د ځمکې په ټولو مخلوقاتو د رحم کولو امر وکړ؛ که هغه انسان، یا حیوان، یا الوتونکی مرغه او یا نور داسې ډول ډول مخلوقات وي، او د دې بدله دا ده چې الله تعالى به په تاسو باندې د اسمانونو له پاسه رحم وکړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/8289